(١)

## اسلام کار او سلوک
## د تابعیونو د ژوند نمونه

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چې د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی هغه پخپل کتاب کې فرمايلي: **«وَالَّذِينَ جَاءُوا مِنْ بَعْدِهِمْ يَقُولُونَ رَبَّنَا اغْفِرْ لَنَا وَلِإِخْوَانِنَا الَّذِينَ سَبَقُونَا بِالْإِيمَانِ وَلَا تَجْعَلْ فِي قُلُوبِنَا غِلًّا لِلَّذِينَ آمَنُوا رَبَّنَا إِنَّكَ رَءُوفٌ رَحِيمٌ »ژباړه:« (او دا مالونه د هغو کسانو لپاره هم دي) چې له دغو مخکنيو څخه وروسته راغلي دي، هغه کسان چې وايي: "اې زموږ ربه! موږ او زموږ ټولو هغو وروڼو ته ببښنه وکړه، چې زموږ څخه مخکې يې ايمان راوړيدی؛ او زموږ په زړونو کښې د مؤمنانو لپاره هيڅ کينه مه اچوه. اې زموږ ربه! ته ډېر مهربان او رحم کوونکی يې."»** او زه ګواهي ورکوم چې نشته لايق د عبادت مګر يو الله دی چې هيڅ شريک نلری، او زه ګواهي ورکوم چې زمونږ سردار او نبي محمد صلی الله عليه وسلم د الله جل جلاله بنده او رسول دی، درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چې د قيامت تر ورځي پوري په نيکۍ سره د هغه تابعداري کوي.

**و بعد:**

يقينا الله جل جلاله د خپلو بندګانو څخه ځيني داسی وره کوي چې د هغه دين او د هغه د رسالت لپاره اخلاص ولري پيغمبر صلی الله عليه وسلم خبرداری ورکړی وو چې د دغه امت ترټولو غوره خلک د هغه صحابه دي بيا تابعين او له هغه وروسته بيا نور تابعين دي د عبدالله بن مسعود څخه روايت دی دی وايي چې پيغمبر صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: په خلکو کې غوره خلک هغه څوک دي چې زما په پيړي کې ژوند کوي بيا هغه څوک دي چې ورپسی راځي بيا هغه کسان چې ورپسی راځي نو

همدغه خلک هغه څوک دي چې غوره کړی شوی دي اوپه خیر او ښیګڼي باندي ددوي صفت شوی دی او د علم امانت یی د ځانه سره لیږدولي دی او د دین او د علم څخه یي د تندرو او تجاوزګزرانو فکر ویستلی دی او همدارنګه د ناپوه خلک تآویل یی لمنځه وړي الله جل جلاله ددوي او همدارنګه د صحابه کرامو ټولو صفت کړی د او دوي یي په نیکي سره یاد کړي دي په داسی ډول سره چې الله جل جلاله لدوي څخه راضي دی او لدوي سره یی د جنتونو وعده کړي ده چې د هغه نه به نهرونه بهیږي لکه چې الله جل جلاله فرمايي:« وَالسَّابِقُونَ الْأَوَّلُونَ مِنَ الْمُهَاجِرِينَ وَالْأَنصَارِ وَالَّذِينَ اتَّبَعُوهُم بِإِحْسَانٍ رَّضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ وَرَضُوا عَنْهُ وَأَعَدَّ لَهُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي تَحْتَهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا أَبَدًا ذَٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ»ژباړه:« هغه مهاجرین او انصار چي تر ټولو د مخه د ایمان بلني ته په لبیك ویلو کښي وړاندي شول، دغه راز هغه کسان چي وروسته له نېکۍ او رښتینولۍ سره په هغو پسي راغلل؛ الله له هغو څخه خوښ او هغوی د الله څخه خوښ شول. الله د هغو لپاره داسي باغونه (جنتونه) تیار کړيدي، چي لاندي به يې ویالې بهیږي او هغوی به پکښي د تل لپاره اوسیږي. همدا ډېر لوی بریالیتوب دی».
او تابعین د پیغمبر صلی الله علیه وسلم زمانی ته ډیر نږدی وو ځکه چې د صحابه ؤ څخه وروسته تابیعین او د هغو وروسته بیا تبع تابعین راځي چې د تابعینو څخه وروسته د رجه بندي کې راځي الله جل جلاله د امام بوصیری ته خیر ورکړي چې دغه شعرونه یی ویلي دي:
دی ټول د پیغمبر صلی الله علیه وسلم څخه رښا اخیسته وه او دوي د بحر او وچو په څیرباندي هر څه د پیغمبر صلی الله علیه وسلم څخه لاسته راوړي وو.
تابعینو د صحابه کرامو ملګرتیا کړي وه او د هغوي څخه یی زدکړه کړی وه او همدارنګه صحابه کرامو هم د تابعینو د فضیلت او د علم په هکله ګواهي ویلي ده لدي جملي څخه د ابن عمر رضي الله عنه ګواهي ده چې د

سعيد بن مسيب په هکله يي ويلي دي زما د به الله قسم وي چې هغه د مفتيانو څخه دي او هغه به ويل چې تاسو د سعد بن مسيب څخه پوښتنه وکړي ځکه چې هغه هميشه د نيکانو سره ناسته پاسته لري، سعيد بن مسيب رحمه الله پداسی وخت کي فتواګاني ورکولي چې ځيني اصحابان ژوندي وو او اعطا بن ابي رباح همدارنګه په مکه مکرمه کې د عبدالله بن عباس رضي الله عنه څخه وروسته د يو لوي عالم په توګه سره يادېدو کله چې ابن عمر مکي ته راغي نو پوښتنه يی تری وکړه ايا تاسو ما دپاره پوښتني ټولوي پداسی حال کي چې ستاسو منځ کې ابن ابي رباح موجود وي يعني د هغه څخه وکړي.
تابعين پدي باندي پيژندل شوي دي چې هغوي د پيغمبر صلی الله عليه وسلم سره په ريښتني توګه سره مينه لرله حسن بصري رحمه الله چې کله به د پيغمبر صلی الله عليه وسلم حديث بيانول نو ژړل به يی ځکه چې هغه به دا هيله درلوده چې پيغمبر صلی الله عليه وسلم يی ليدلي وی او کله چې د امام مالک رحمه الله څخه پوښتنه وشوه چې آيا د ايوب سختياني څخه څه اوريدلي دي؟هغه وفرمايل چې هغه دوه حجه کړي دي زه هلته ورغلي ومه خو د هغه څخه مي څه ندي اوريدلي خو کله چې به د پيغمبر صلی الله عليه وسلم يادونه کيدله نو هغه به ژړل همدارنګه تابعينو به د پيغمبر صلی الله عليه وسلم ډير زيات درناوي کولو پداسی ډول سره به چې د هغه احاديث به يی پداسی وخت بيانول چې دوي به په حالت اوپه ښه شکل باندی وو او خپل تابعداران يی هم په همدي باندی روزلي وو ابو سله الخزاعي رحمه الله وايی:چې مالک بن انس به چې کله غوښتل چې ديث بيان کړي نو اودس به يی وکړو او ښه کالي به يی اغوستل او ږيره به يی ګمونځ کوله نو کله چې ددی په هکله پوښتنه وکړه نوهغه ورته وفرمايل چې زه پده باندي د پيغمبر صلی الله عليه وسلم او د هغه د احاديثو درناوي کوم.

د تابعینو څخه ځیني داسی دي چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم د هغو یادونه په خیر اودرناوي سره کړی ده چې د هغه جملي څخه عویس قرني دی همدارنګه پیغمبر صلی الله علیه وسلم د هغوي یادونه خپلو صحابه ؤ ته هم کړی ده او هغوي ته یی ویلي دي چې ددغه تابعینو دعاوي به قبلیږي د عمر بن خطاب نه روایت دی دی وایی چې ما د پیغمبر څخه واوریدل چې ویل یي:په تابعینو کې غوره هغه څوک دی چې هغه ته به عویس ویل کیږي د هغه یو مور وي اوسپین سری به وي او د هغه خدمت به کوي کله چې د یمن خلکو سره مخامخ شو نو عمر رضي الله عنه پلټنه پیل کړه ترڅو هغه وګوري او د هغه سره ملاقات وکړي نوکله چې ولیدو نو ورته وویل چې ته ما دپاره بخښنه وغواړه هغه ورته وفرمایل چې ته په ریښتیا سره لما غواړي چې زه ستا لپآره بخښنه وغواړم ته دي پیغمبر صلی الله علیه وسلم صحابي وي همداسی وو تردي پوری چې هغه د الله جل جلاله څخه ورته بخښنه وغوښتله.
تابعینو د صحابه کرامو څخه دین په سمه توګه یاد کړي او ځان یی په ښه ډول پوه کړی وو امام حسن بصري رحمه الله چې یو لوي تابعي دی کله چې تري پوښتنه وشوه چې آیا ته مومن یي هغه وفرمایل: ایمان په دوه ډوله دی که چیرته ته لما څخه پوښتنه کوي چې ته په الله جل جلاله د هغه په ملائکو کتابونو رسولانو جنت او د مرګ نه بعد په پاسیدلو حساب کتاب باندي د ایمان پوښتنه کوی نو زه مومن یمه او که چیرته ته لما څخه پوښتنه کوی او د الله جل جلاله دغه وینا د مراد وي چې فرمایي:« إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ إِذَا ذُكِرَ اللَّهُ وَجِلَتْ قُلُوبُهُمْ وَإِذَا تُلِيَتْ عَلَيْهِمْ آيَاتُهُ زَادَتْهُمْ إِيمَاناً وَعَلَى رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ * الَّذِينَ يُقِيمُونَ الصَّلاَةَ وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ يُنْفِقُونَ * أُولَئِكَ هُمُ الْمُؤْمِنُونَ حَقّاً»ژباړه:« ربښتیني مؤمنان هغه دي چې زړونه یې د الله د یاد په اورېدلو لړزیږي. او کله چې د هغو په وړاندي د الله ایتونه لوستل کیږي، نو د هغو ایمان زیاتیږي او هغوی پر خپل رب اعتماد لري، *هغه کسان چې لمونځ قائموي او څه چې مو هغو ته ورکړي دي، له هغو څخه

يې(زموږ په لار کښې) لګوي؛ *همداسې خلك حقیقي مؤمنان دي.»، نو قسم په الله دی چې زه نه پوهیږم چې زه لدوي څخه یمه او که نه؟ بیهقي ددی په تعریف کې ویلي دي چې حسن بصري د خپل ایمان په اصل کې فکر نه کولو بلکې هغه د خپل ایمان په بشپړوالي کې فکر کولو چې الله جل جلاله ته هغه خاوندانو سره د جنت وعده کړی ده لکه چې فرمایي:«لَهُمْ دَرَجَاتٌ عِنْدَ رَبِّهِمْ وَمَغْفِرَةٌ وَرِزْقٌ كَرِيمٌ»ژباړه:« د هغو لپاره د هغو له رب سره لویې درجې دي، له ګناهونو څخه تیرېدنه او ډېره غوره روزي ده».
همدارنګه تابعین پدې پوه شوي وو چې په دین کې اساني ده او پخپل ژوند کې دا پلي کړی وو صفیان ثوری رحمه الله وایی چې په علم کې زمونږ لپآره آسانتیا ده او سختي پدې کې نشته اذرخ بن قیس وایي چې مونږ په اهواز کې د یو نهر په غاړه د اوبو ترڅنګ روان وو نو ابو برزه اسلمي په اسپه باندي راغي او لمونځ یی وکړو او خپله اسپه یی پریښودله نو کله چې اسپه یی روانه شوله نو لمونځ یی پریښوده او د هغه پسی شو تردي چې راونیوله بیا راغي خپل مونځ یی پوره کړ پدوي کې یو سړئ وو او وی ویل چې ده شیخ ته وګوره چې خپل مونځ یی پریښوده او د اسپه لپآره یی منډه کړه هغه وویل: چې زما کور لریی دی که چیرته ما مونځ کړی وي او خپله اسپه مي پریښی وي نو خپل ماشومانو ته د شپې پوری نشوم رسیدلی او ما د پیغمبر صلی الله علیه وسلم څخه دا یاد کړي دي که چیرته د دوو کارونو په منځ کې هغه ته اختیار ورکړل شي نو هغه اسانه به اختیاروي ترهغه وخته پوری چې په هغه کې ګناه نه وي لکه چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: تاسو آسانتیاوي کوي سختی مکوي زیری ورکوونکي وسی او د کرکي خپرونکي مه اوسی.
همدارنګه تابعینو پخپل ژوند کې رحمت یو د بل سره مرسته او په نورو باندي د احساس لرل پلي کړي وو او دا یی پخپل ژوند کې پلي کړي وو علي بن حسین بن علي رضي الله عنه تل په بیوزلو باندي په پټه سره نفقه

کوله چې څوک به پرې نه پوهیدو کله چې مړ شو نو او غسل یی وروکولو اوپه شاء کې یی یو نښه ولیدله چې پخپل شاء باندې به یی بیوزلو ته شیان وړلو ځکه هغو کسانوباندې چې یی نفقه کوله هغوي هم پدې باندې نه پوهیدل ځکه چې هغه به د شپې ورته راتللو او هغوي ته به یی نفقه ورکوله تردې چې هغه په مدینه منوره کې د سلو کورونو څخه زیاتو کورونو ته نفقه ورکوله.
یو په بل باندې رحم او همدارنګه یو د بل د حال نه خبریدل یوازې مسلمانانو پورې اړه نلري بلکې دا مسلمانان اونور ټکې ټول شامليږي عمر بن عبدالعزیز رضي الله عنه په بصره کې خپل موظف ته داسې لیکلي وو ته شاوخوا وګوره که چیرته اهل ذمه هم وي او د هغه عمر زیات وي او بیوزله وي نو د مسلمانانود بیت المال څخه هغه ته هم یوڅه ورکړه هغه ته د عمر بن خطاب رضي الله عنه څخه تا ترلاسه کړي وو ځکه چې هغه کله عمر ري الله عنه یو سپین ږیری ولیدو چې هغه د اهل کتابو څخه وو او د خلکو څخه یی د بیوزلو له وجه یی خیرات ټولولو نو ورته وویل چې قسم په خدای مونږ انذار ندي کړي ددی سره ځکه چې د هغه په ځواني کې دده څخه مونږ اخیستي او همدا وو چې د بیت المال څخه یی هغه ته پیسی ورکړی، همدارنګه خالد بن لید رحمه الله د اهل هیره سره په سوله کې همدا ویلي وو چې په تاسو کې څوک ناتوان او بیوزله او سپین ږیری وي او یا ورته زیان رسیدلی وي نود مسلمانانود بیت المال څخه به د هغه نفقه ورکول کیږي دوي ټول پدې کې د پیغمبر صلی الله علیه وسلم اقتداء کړی وه او سم دین یی پلي کړی وو ځکه چې پدې کله الله جل جلاله فرمایي:« لا ینهاکم اللَّهُ عَنِ الَّذِينَ لَمْ يُقَاتِلُوكُمْ فِي الدِّينِ وَلَمْ يُخْرِجُوكُمْ مِنْ دِيَارِكُمْ أَنْ تَبَرُّوهُمْ وَتُقْسِطُوا إِلَيْهِمْ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُقْسِطِينَ»ژباړه:« الله تاسي له دې خبري څخه نه منع کوي چې له هغو خلکو سره د نېکۍ او عدل چلند وکړئ چې د دین په باب یې ستاسي سره

جنګ ندی کړی او تاسي يې له خپلو کورونو څخه نه یاست ایستلي. الله عدل کوونکي خوښوي».
دغه رحمت یوائې په انسانانو پوري نه وو بلکي دا حیواناتو مارغانو او هر هغه څه ته شامليدل عمربن عبدالعزیز رحمه ا لله خپل و مؤظف ته په مصر کې ولیکل او ورته یې وویل چې ته په اوښانو باندي رحمت کوه او وی ویل ماته خبر رارسیدلی چې به مصر کې داسی اوښان شته چې هغوي باروړي نو ورته یی ولیکل چې په هغوي باندي په اندازه باندي بار یوړل شي د هغوي د توان څخه زیات باید نه وي.
همدارنګه ټولوتابعینو په رحمت کولو باندي وصیت کړی وو چې پدي کې باید ټول په ځان دا عملي کړي او پدي کې دا ټول د پیغمبر صلی الله علیه وسلم څخه ترلاسه کړي وو ځکه چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم هم د یو اوښي خاوند ته همدا ویلي وو چې آیا ته د الله څخه نه ویریږي چې پدغه چارپاي باندي ته ظلم کوي او حال دا چې الله جل جلاله تاته درکړی دی.

**اقول قولی هذا و استغفرالله لی ولکم**

*********

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چې د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی، او زه ګواهي ورکوم چې نشته لایق د عبادت مګر یو الله دی چې هیڅ شریک نلری،او زه ګواهي ورکوم چې زمونږ سردار او نبي محمد صلی الله علیه وسلم د الله جل جلاله بنده او رسول دی درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چې د قیامت تر ورځې پوري په نیکۍ سره د هغه تابعداري کوي.

**ډیرو درنو مسلمانانو ورونو:**

هغه څه چې تابعین د نورو څخه هغه جلا کوي هغه دادی چې د خلکو سره په ډیر نرمښت اورحم څخه یی کار اخیستو او هغوي سره به یی ډیر عاجزي کوله تابعین په خلکو کي د ډیر نرم زړه خاوندان او په خلکو کې د ډیر زغم خاوندان وو چې د خلکو سره به یی په ډیر نرمښت څخه کار

اخيستو د قتاده رضي الله عنه څخه روايت دی دی وايي چې مونږ په حسن بصری باندي چې کله کور ته ورداخل شو هغه وده وو او د هغه سرته يوه ټکری پرته وه نو چې کله هغه مو راواخيسته نو په هغه کې لږه ډوډي او ميوه وه نو مونږ هغه وخوړله کله چې هغه ويښ شو مونږ يی وليدو نو خوشحاله شو او ويخندل او د الله جل جلاله دغه ايت يی ولوستلوچې فرمايي:« أَوْ صَدِيقِكُمْ لَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ»ژباړه:« خپلو دوستانو له کورونو څخه خوراك وکړئ. ددی هم څه باك نشته»، او د جرير بن حازم رضي الله عنه څخه روايت دی وايی چې مونږ د حسن بصري ترڅنګ وو کله چې نيمه شپه شو نو د هغه ځوي وويلي چې نور د شيخ څخه ولاړ شي ځکه چې دا ستاسو شتون دلته سخته وي او ستوزمنه ده چې هغه له تاسو سره کيني ځکه چې هغه تر اوسه پوري خوراک او څخښاک ندی کړی هغه ورته وفرمايل: پريده قسم په الله چې ددوي د ليدو څخه بل څه ماته ډير خوند نه راکوي.
پدي کې د خپله د ځانځاني څخه انکار دي او د علم د اندازي او د قدر پيژندل او هغه ته درناوي بيان شوی دي او د الله جل جلاله د دينن قدر بيان شوی دی چې په نفسونو کې بايد موجود وي ښايی دا د هغه چا لپآره د يو درس وي چې هغوي د الله دين کې خبري کوي خو علم نلري پيغمبر صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي چې يقينا الله جل جلاله د خپلو بندګانوڅخه علم يو واريی نه ترلاسه کوي بلکي علم د علماؤ د لاسه لمنځه ځي ځکه چې عالم د خلکوپه منځ کې نه پاتي کيږي خلک جاهلان مشرانوي اود هغوي څخه د فتوا پوښتنه کوي او پداسی حال چې هغوي علم نلري دوي هم ګمراه کيږي اوهغوي هم ګمراه کوي.
يقينا چې تابعين زمونږ لپآره پيشوا ګان اود لاری ښودونکي دي اوهمدارنګه هغوي د هغه چا لپاره د لار ښودونکي وو چې هغوي څخه وروسته امامان راغلي وو امام مالک بن انس رضي الله عنه چې هغه هم تابع تابعي وو د هغه څخه ابو جعفر منصور رحمه الله غوښتنه وکړه چې

د هغه کتاب چې الموطا نومیږي په بیلابیلو اسلامي هیوادونو کې خپور کړي او وي ویل چې زه غواړمه چې دا کتاب په لیکنو باندی عمل وکړم اودهغه ډیر نسخي چاپ کړم بیا هغه د مسلمانانو بیلابیلو ښارونو ته ولیږم اوهغوي ته امر وکړم چې پدي باندي عمل وکړي اولدي څخه تجاوزونکړي او هغه څه پریږدي چې دد ماسوا دي ځکه چې ما د علم په بنسټ پدي کې لیدلي دی او د مدینه اود نورو علم په همدي کې راجمع شوی دی امام مالک رحمه الله ورته وفرمایل ای امیرالمومنینه داسی مکوه ځکه چې هغه اوخلکو ته ددي مخکی ډیر څه رسیدلي دي او هغوي حدیثونه او روایتونه یی اوریدلي دي اوهر قوم هرڅه ترلاسه کړي اوپه هغه باندی عمل کوي او حال دا چې د خلکو ترمنځ اختلافات موجود دي نو هغوي پریږده په هماغه څه کې چې ورته رامنځته شوي دي او دا پری مه لازمي کوه.